AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۴/۰۳/۲۸

# په پاکستان کي وروستی ناامنی

په دغه هېواد کې د ترهګریزو پېښو زیاتیدو سره اوس پاکستان حیران دی، چي پر افغانستان خپل تورونه څه ډول توجیه کړي. څکه د خیبر پښتونخوا پیښه له لسو کالو زیاته مخینه لري.

د دو شنبي په ورځ د مارچ میاشت په ۲۵ امه نیته په بلوچستان کي پر هواي اډه برید شوی، او ویل کیږي چي ۱۳ پاکستاني پوځیان په کي وژل شوي دي او ځیني يي بیا تر دې شمیر زیات ګني. په داسي حال کي چي یوه ورځ وروسته د خیبر پښتونخوا په شانګله بشام سیمه کي د چینایانو پر موټر ځان مرګی برید شوی، پنځه تنه چیناي وګړي او د هغوي پاکستاني موټر چلونکي وژل شوی دی.

په افغانستان کي دننه او له هېواده بهر سیاسی شنونکي په دي اند دي چي دا ټولي ترهګریزي پیښي په خپله د پاکستان د پوځ له خوا هغه ترهګر افراد تر سره کوي،چي دوي روزلي دي.

لکه د افغانستان انترنشنل تلویزون په سپړنه خپرونه کي د افغانستان د ولسي جرګي پخواني غړی عبدالرحیم ایوبي وویل:« دا ټولي ترهګري ډلي په خپله پاکستان روزلي او اوس دی د دغه پیښو پړه د افغانستان پر طالبانو نه اچوي.» دی وایي، که څه هم موږ د طالبانو پلوي نه کوو، خو په حقیقت هم سترګي نه شو پټولي.

نوموړي زیاته کړه:« پاکستان په همدي موخه رامنځ ته شوی، که چیري د دغه هېواد اوسنی صدراعظم شهباز شریف هم په افغانستان کي مشر شي، دغه هېواد به یي خلاف وي. څکه دغه هېواد د جګړي او نا امنیو رامنځ ته کولو په موخه جوړ شوی او نه پرېږدي چي په افغانستان کي وګړي د ارامی ساه واخلي.» د ده په اند پاکستان له کوم ګاونډي سره سمي اړیکي لري؟ پرته له چین څخه، پاتي نورو سره د ده لانجمني اړیکي همداسی دوام لري. په افغانستان کي خو له ځلوېښتو کلونو نه په زیاته موده کي په لکونو انسانان د پاکستان د ترهګریزې لاس وهنی له کبله له منځه تللي دي. ورته ډیر سیاسي څیرونکي همدا نظر لري.

په روانه اونی کي په سویلي بلوچستان کي برید او ورته نور بریدونه ټول د هغه ترهګرو ټوپکوالو له خوا تر سره شوي،چي اساس او بنسټ یي د پاکستان(اي اس آی) له خوا شوي دی.

پاکستان دغه ډول بریدونو ډیریدلو کي د افغانستان اسلامي امارت لاس لرل ګني او وایي چي دوي همدا ترهګر تمویلوي او مرسته ورسره کوي.

خو اسلامي امارت تر اوسه هر ډول تورونه رد کړي او د تیري ورځي برید کوم چي په خیبر پښتونخوا په غریزه سیمه کي پیښ شوی، د پاکستان ټول چاراوکي چوپه خوله پاتي دی. دا څکه چي په دغه سیمه کي له تیرو کلونو راهیسي هم پر چینایي کارکونکو مرګوني بریدونه شوي دی.

دلته په پاکستان کي دننه په خاص ډول په بلوچستان کي ځاي خلک د چینایانو شتون نه شي زغملای او له هماغه پیل څخه یي چینایي انجینران په نښه کړي او د مرګ کومي ته یي ټیل وهلی دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

سیاسی شنونکی وایي، په پاکستان کي هیڅ ډول عدالت نه شته، مشران  او جنرالانو یي په میلونو ډالر له هېواده ویستلي او د ډیرو یې کورنی په امریکا،کانادا، استرالیا، دوبی او نورو عربي هېوادونو کي اوسیږي او هلته یي پانګوني کړي دي.

ټوله نړی په دغه هېواد کي په ځانګړي توګه د پښتنو او بلوڅو د سیاسی غورزنګونو شاهده ده، چي دغه هېواد په پوره سپین سترګی او د ټولو بشري حقوقو خلاف د دوي د  سیاسی کسانو سره چلن کوی، مشران یي جیلونو ته لیږی، ترور کوي یي چي تر اوسه په سلګونو کسان لادرکه دي. دغه سیمي او وګړي په ډیر فقر او بیوزله حالت کي ژوند کوي. په کوټه کي د پرلت کولو چي تر شپږو میاشتو وغزیده، تر اوسه یي غوښتنه نه منل کیږي.

سیاسی او اقتصادي کارپوهان په دی اند دي، چي په پاکستان کي روان اقتصادي بحران او ورسره نا امنی، د ترهګریزو پیښو ډیریدل په خپله د دي لاس وند دی چي دا هېواد مخ پر زوږ روان دی. ځکه په نړۍ کي هر شتمن هېواد چي دوي ته پور ورکوي، نو د هغه پور سود دومره ملا ماتونکی دی، چي دغه هېواد یي په بیرته ادا کولو **نور** هم په پوروړو کي ډوبیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ